# د صحي معاينې بلنه

مورږ له نرسي سره ستاسي د صحي معاينې لپاره وخت نيولی دی. د صحي معاينې وخت او ځای لپاره دويمه پاڼه وګورئ. دا چې تاسو د سويډن هيواد ته نوي راغلي ياست نو ځکه مو د صحي معاينې بلنه درکړې ده.

د دې معاينې موخه دا ده چې ستاسو روغتيا وګورو او تاسو سره مرسته وکړو ترڅو وکولی شئ چې يو صحتمند ژوند ولرئ. په دې معاينه کې به ستاسو د صحت په اړه خبرې کيږي او وينه به مو معاينه کوو. دا ضرور نه ده چې په نهاره راشئ. تاسي ته ستاسو په ژبه ترجمان هم تاکل شوی دی. د ترجمان يو مسئوليت دا هم دی چې ستاسي خبرې راز وساتي.

دا صحي معاينه يو وړاندیز دی او په دې کې برخه اخيستل په بشپړ ډول اختياري دي. دا نوموړې معاينه وړيا ده او شاوخوا يوه ساعت وخت نيسي. که تاسو چیرې په دې کې تاسو ګډون نشئ کولی يا نه غواړئ ګډون وکړئ، نو مهرباني وکړئ، بل وخت وټاکئ يا مو وخت لغوه کړئ.

د صحي معاينې پايلي په سويډن کې ستاسو د پاتې کېدو پر تصميم هيڅ اغزه نلري. د مهاجرت اداري ته د معاينې نتيجه نه ورکول کيږي.

مهرباني وکړئ که چيرې دا ډول اسناد لرئ نو له ځان سره يې راوړئ: لکه د هويت يا پيژندګلو کارډ، د مهاجرت يا ايليما کارډ ، پاسپورټ يا هم د قبولی کارډ. که چيرته د پخوانی واکسين سندونه لرئ، نو هغه هم له ځان سره راوړئ.

د هغې نرسي نوم چې تاسو به ورسره ګورئ، د ملاقات نېټه او وخت په دويمه پاڼه کې بنودل شوی دی. هلته زمونږه پته او د اړيکو شمېره هم شتون لري.

ښه راغلاست